**د نیمروز مرستیال والي مطبوعاتی دفتر**

**خبرپاڼه**

**خبرپاڼه شمیره :۳۵** **تاریخ : ۱۳۹۷/۴/۲۰**

## د خاشرود ولسونه:
## که توجه راته زیاته شي، له دولت سره به خپله همکاري او ملاتړ پراخه کړو.

د نیمروز د خاشرود ولسوالی قومي مخور او ولسونه وایي، که دولت راته خپله توجه زیاته کړي، چمتو یو چې د رواني جګړې په مخنیوي او نورو برخو کې له دولت سره خپله همکاري او ملاتړ پراخه کړو.
دوی یادې څرګندونې نن د خاشرورد ولسوالۍ مرکز غرغري ته د دغه ولایت د مرستیال والي سردار محمد همدرد او امنیه قومندان عبدالرقیب مبارز د یوه سفر پر مهال وکړې.
دغو قومي مخورو دولت ته د یو شمېر ستونزو په اشارې د غوره حکومتوالۍ پر ټینګښت تاکید وکړ. د هغوی په وینا خاشرود جګړه ځپلې ولسوالي ده او امنیتي ځواکونو په لږو امکاناتو د دې سیمې او خلکو امنیت خوندي کړی دی .
مرستیال والي په دولت کې د ستونزو موجودیت مني؛ خو په خبره یې که ولسونه ورسره همکاري وکړي، ستونزې په اسانۍ حلیږي.
ښاغلي همدرد زیاته کړه خاشرود د نیمروز مهمه ولسوالي ده او له دلیل پرته به ورته خپل پام را اړوي.
د هغه په وینا نه یوازې خاشرود، بلکې هڅه کوي د نیمروز هره سیمه له امنیتي اړخه خوندي او د خلکو د هوساینې لپاره په کې پرمختیایي پروژې پلې او خلکو ته ځانګړي خدمات وړاندې کړي .
پر دې سربېره امنیه قومندان په خاشرود کې د دولتي ځواکونو روحیه او قرباني وستایلې او ویې ویل، دا مهال په خپلو پلانونو کې بریالي دي او په راتلونکي کې به لا هم دغې ولسوالۍ ته ځانګړې پاملرنه کوي.
د مبارز په خبره مونږ ټول مسلمانان او افغانان یو او دا خاوره په مونږ حق لري، څو ساتنه یې وکړو.
که څه هم خاشرود ولسوالي ځینې وختونه د وسلوالو طالبانو او حکومتي ځواکونو د جګړې شاهده وي؛ خو بیا هم دولتي ځواکونه بریالي دي، چې دغه ولسوالي تر خپل نفوذ لاندې وساتي او امنیت په کې تامین کړي.

په درنښت!

د نیمروز مرستیال والي مطبوعاتي دفتر n.deputygovernor16@gmail.com
hamidstoone16@gmail.com Phone: +93787775113 +93700468969